# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## د ادې کېلې / Grandma’s bananas


Ursula Nafula
Catherine Groenewald
Zahidullah Abid (ps)



This work is licensed under a Creative Commons Attribution 3.0 International License.

https://creativecommons.org/licenses/by/3.0


# د ادې کېلې

## Grandma’s bananas


Ursula Nafula
Catherine Groenewald
Zahidullah Abid


4

پښتو ps / English en

د ادي باغ ډېر په زړه پورې ؤ. نوموړی باغ د باجرو، جوارو او کاساوا څخه ډک و. خو له هر څه يې کيلې ښې وې. که څه هم زما د ادې ډير لمسيان ؤ، خو زه ورته په پټه په ټولو کې ډېرګران وم. ماته به يې ډېری وخت خپل کور ته بلنه راکوله. ماته به يې ځينې رازونه هم ويل. خو يو راز ؤ چې له ما سره يې شريک نه کړ، هغه راز دا ؤ چې کوم ځای کې هغه کيلې پخوي.

. . .

Grandma's garden was wonderful, full of sorghum, millet, and cassava. But best of all were the bananas. Although Grandma had many grandchildren, I secretly knew that I was her favourite. She invited me often to her house. She also told me little secrets. But there was one secret she did not share with me: where she ripened bananas.



په همغه ورځ ماښام، مور، پلار او نياجانې مې ماته غږ وکړ، زه پر دې پوهيدم، چې د څه لپاره ماته غږ کوي، کله چې زه پر تخت څملاستم، پر دې پوهه شوم، چې نور به هېڅکله له خپلې مور، پلار او نياجانې او هيچا څخه غلا ونکړم.

. . .

Later that evening I was called by my mother and father, and Grandma. I knew why. That night as I lay down to sleep, I knew I could never steal again, not from grandma, not from my parents, and certainly not from anyone else.

بله ورځ نیا مې غوښتل ښار ته لاړه شي، انا مې سهار وختي له خوبه پاڅېده. هغې به تل پخې کېلې او کاساوا په بازار کې پلورل. ما په هغې ورځ د هغې لیدو ته بیړه ونه کړه. خو دا مې هم نه شو کولی چې د ډېر وخت لپاره د هغې څخه لرې واوسم او هغه ونه ګورم.

. . .

The following day was market day. Grandma woke up early. She always took ripe bananas and cassava to sell at the market. I did not hurry to visit her that day. But I could not avoid her for long.



یوه ورځ مې د انا له کوره بېرون، لمر ته د بوسو یوه لویه ټوکرۍ ولیده. له نیا مې وپوښتل چې دا ټوکرۍ څه لپاره ده، نیا مې وویل، "دا زما جادویي ټوکرۍ ده." د ټوکرۍ تر څنګ د کیلې د ونې یو څو پاڼې وې، چې انا به وخت په وخت بدلولې. زه د نیا دې کار ته متوجه وم. له نیا مې وپوښتل "دا پاڼې د څه لپاره دي، ؟" نیا مې په ځواب کې راته وویل، "دا زما جادویي پاڼې دي."

. . .

One day I saw a big straw basket placed in the sun outside Grandma's house. When I asked what it was for, the only answer I got was, "It's my magic basket." Next to the basket, there were several banana leaves that Grandma turned from time to time. I was curious. "What are the leaves for, Grandma?" I asked. The only answer I got was, "They are my magic leaves."

د نیا کیلو،پاڼو او د بوسو غټې ټوکرۍ لیدلوخوند راکاوه. خو نیا مې زه په یوه کار پسې مور ته ولېږلم. ما مې نیا ته په ټینګار سره وویل"نیا جانې، اجازه راکړئ چې وګورم چې تاسو څه او څنګه چمتو کوئ." نیا مې راته وویل: "مه شله کېږه کوچنیه!، څه مې چې درته وویل، هماغه وکه." زه هم لاړم.

. . .

It was so interesting watching Grandma, the bananas, the banana leaves and the big straw basket. But Grandma sent me off to my mother on an errand. "Grandma, please, let me watch as you prepare..." "Don't be stubborn, child, do as you are told," she insisted. I took off running.



بله ورځ، کله چې مې نیا په باغ کې سابه راټولولو، زه په پټه کوټې دننه شوم او یو ځل بیامې کیلې وکتلې. تقریباً ټولې کېلې پخې شوې وې. خو ما نشو کولی چې د څلورو پخو شوو کېلو غونچه پټه کړم. کله چې مې د دروازې په لور قدم کېښود، د شا نه مې د انا ټوخی واورېده. کیلې مې د خپلو جامو لاندې پټې کړې او د هغې څخه تېره شومه.

. . .

The following day, when grandma was in the garden picking vegetables, I sneaked in and peered at the bananas. Nearly all were ripe. I couldn't help taking a bunch of four. As I tiptoed towards the door, I heard grandma coughing outside. I just managed to hide the bananas under my dress and walked past her.

بله ورځ مې چې نیا زما د مور لیدو ته راغله، زه د هغې خونې ته په منډه منډه ولاړم ، تر څو زه یو ځل بیا هغه کیلې وګورم. ما د ډیرو پخو شوو کېلو یوه ګېډۍ ولیدله. یوه کیله مې ترې راواخیسته او د جامو لاندې مې پټه کړه. د ټوکرۍ د پوښلو وروسته، زه د کور شاته لاړم او په چټکۍ سره مې کېله وخوړه. دا ترټولو خوږه کیله وه، ما تر دې دمه د دې په څېر خوندوره کېله نه وه خوړلې.

. . .

The following day when grandma came to visit my mother, I rushed to her house to check the bananas once more. There was a bunch of very ripe ones. I picked one and hid it in my dress. After covering the basket again, I went behind the house and quickly ate it. It was the sweetest banana I had ever tasted.



کله چې بیرته راستنه شوم، نیا مې د کوره بهر ناسته وه، نه هغه ټوکرۍ وه او نه هم کیلې. ما مې له نیا وپوښتل"ادې جانې، هغه ټوکرۍ څه شوه، کیلې چېرته دي، چېرته ..." خو بیا هم یوازینی ځواب چې ما ترلاسه کړ هغه دا ؤ، "هغه ټول زما په جادویي ځای کې دي." دا ډېره مایوسه کوونکې وه!

. . .

When I returned, Grandma was sitting outside but with neither the basket nor the bananas. “Grandma, where is the basket, where are all the bananas, and where...” But the only answer I got was, “They are in my magic place.” It was so disappointing!

دوه ورځې وروسته، نیا مې زه د هغې د خوب کوټې ته د هغې په امسا پسې ولېږلم. کله چې مې دروازه خلاصه کړه، د پخو کیلو بوی مې حس کړ. د کوټې دننه د انا لویه جادویي د بوسو ټوکرۍ وه او یوه زړه کمپله ترې راچاپېره وه. ما هغه کمپله ترې پورته کړه او یو ډېر خوږ بوی مې حس کړ.

• • •

Two days later, Grandma sent me to fetch her walking stick from her bedroom. As soon as I opened the door, I was welcomed by the strong smell of ripening bananas. In the inner room was grandma's big magic straw basket. It was well hidden by an old blanket. I lifted it and sniffed that glorious smell.



نیا مې غږ وکړ او له دې سره زه وډار شوم، "هله ژر شه څه کوې!!" ما د نیا امسا را واخیسته او په چټکۍ سره له کوټې بهر ووتم، نیا مې وویل "ولې خاندې؟ څه خبره ده؟!" ما ځکه خندل چې د نیا جادویي ځای پیدا کړم او دا چې څنګه کیلې پخوي، وګورم.

• • •

Grandma's voice startled me when she called, "What are you doing? Hurry up and bring me the stick." I hurried out with her walking stick. "What are you smiling about?" Grandma asked. Her question made me realise that I was still smiling at the discovery of her magic place.